مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لیوال

۲۰۲۱/۰۷/۱۸

# سلسله



سلسله د ملاترليو ورونو خور ده
د سلهاوو لکه برندو سترګو تور ده

سلسله بې کسه نه، بې وسه نه ده
سلسله عزت د ټول افغان د کور ده

سلسله د میوندی ملالې چیغه
سلسله د ایوب خان د تورې پور ده

د توپان سکه ترله، د غچ خورلنه
سمندر غوندې څپه څپه په شور ده

توره وتې د ایپي فقیر له تېکې
د کسات زلزله ګډه په لاهور ده

د وزیر اکبر اروا راپورته شوې
د رنجیت پر مېنه بل د قهر اور ده

“سر له تورو خاورو پورته کړه” امانه!
د اټک را باندې پاتې لا پېغور ده

سلسلې! ته د افغان تاریخ یو باب شوې
د ټبر چیغه وتلې لور په لور ده

اسمایی ده، که کوږک ده، که سپین غر ده
هیندوکوش دې لا هغه غیرتي ورور ده

دا ملت به زخمي وي، خو لا ژوندی دی
هسک پامیر غوندې ولاړ د خدای په زور ده


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ